همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# ټول هیواد

په ټول هیواد کې، د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام د پوهنې، روزنې او د بیخبنا په پراخولو کې فعال دی او د سوداګرۍ او اقتصادي ودې د پاره لاره اواروي.

د افغانستان نیم نفوس تر اوسه پورې لوست او لیک نشي کولای، او کارپوهان اغلباً بسیا روزنه نلري ځکه مسلکي روزنه اکثراً لږ عملي اړخ لري او یا په غیررسمي توګه پرمخ بوول کیږي. خو اقتصادي پراختیا او د پوهنې کچه یو له بله سره تړلي دي. د المان حکومت په دې لاره کې کار کوي چې د لومړنیو او منځیو زده کړو او مسلکې روزنې په ډګرونو کې ملي پروګرامونه پیاوړي کړي. ښوونکو ته روزنه ورکول کیږي چې د زده کوونکو سره اغیزمنه مرسته وکړي او دوی د کار د بازار د اړتیاوو سره سم چمتو کړي. او زیات شمیر نور نوښتونه، لکه د تعلیمي نهادونو او سوداګریزو موسسو تر منځ مشارکت او د کار د زده کړې د عملي دورو معرفي کول، هم ترسره کیږي.

بله مسئله داده چې د هیواد په لویو سیمو کې بسیا بیخبنا شتون نلري. د برښنا، اوبورسونې او ټرانسپورټ د شبکو، او د ښوونځیو او روغتونونو د پراخولو په لاره کې هڅې یوازې د هیواد ټاکلو سیمو ته غزیدلي دي، او دغه خدمتونه د خلکو اړتیاوې نه پوره کوي. له دې امله د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام ملکي بیاجوړونه پیاوړې کوي او په دې توګه په اقتصادي ودې، سوداګرۍ، پوهنې او د هیواد په رواني پراختیا کې ونډه اخلي.

Project:

د مسلکي زده کړو وده او د ځوانانو د وزګارتیا پرضد مبارزه

د بیارغونې د ایمني وجهي صندوق له لارۍ پرمختګ

- English
- Deutsch
- دری